په تاسو کې هيڅوک مومن کيدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي

د ابو حمزه انس بن مالک رضي الله عنه څخه – چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم خادم و – روايت دی، چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "په تاسو کې هيڅوک مومن کيدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هېڅ مسلمان تر هغه پورې د بشپړ ايمان خاوند کېدلی نه شي تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي هغه که: طاعتونه او يا هر ډول ديني او دنيوي ښېګڼې وي او دا چې څه د ځان لپاره بد ګڼي د هغه لپاره يې هم بد وګڼي، نو که چېرته يې په خپل ورور کې ديني نېمګړتيا وليده، په اصلاح کې يې زيار باسي او که کومه ښېګڼه يې پکې وليده نو ملاتړ يې کوي او د دين او دنيا په اړه يې ورته نصيحت کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66520

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee